مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

شهسوارسنگروال ۲۰۱۸/۱۱/۰۲

# پېښور د تاريخ په څو ټکو کې

د يوې پاکستانۍ مېرمنې (صفيېه حليم دډېرومعلوماتوله پاره)

_له نن نه 2500کاله دمخه ان له هېرودوت نه وړاندې مايلتوس(نامتوجغرافپيه پوه 500م ز)اوتاريخپوه هيکاتايوس دکاسپا پورس يا دونهکړې ده اودايي دګندهارايوموهم ښارګڼلی دی . خو

هېرودوتس کاسپا تورس په پا کتيوک کې ښيي...

ددې يا دوتا ريخپوها نواوجغرافيه پېژند ونکو ،خبرې په لړتوپير سمې دي،ځکه چې کا سپا پورس هم په ګندهاراکې دی اوهم په پا کتيوککې. .

له هېرودت نه راواخله ترهيونتسانګ پورې يوشمېرخېړونکي دا د نوم تېر وتنه ګڼي اوانګېري،چې دا نوم کا سپا پورس نه بلکې پا سکاپورس دی ،چې موخه ترې اوسنی پېښوردی اودتا ريخ دپلارهېرودتس په اند دپا کتيوک په هېوادکې پروت يونا متوښاروو.دا ډول تېروتنېوروسته هم شويدي،چې مورډالبېروني په ليکنوکې ګورو،چې پورشاپورېې دپوشا بورپه بڼه ليکلی دی......

_دسا نسګرت پوروشا پورا پرته له شکه اوسنی پېښورګڼل کېږي اود هخا منشيانودټولواکمنۍ په مهال ټکسلادهند دنيمې وچې دهغوسيموپلازوو،چې دهخامنشيانوپه ولکه کې وې .له پاسکا پوراس (پېښور)نه سربېره دپېوسلاوتيس(چارسدې)،دګندهارا،پاکتيک(اوسنی افغانستان!؟)هېوادمشهورښا رونه ول ...کله چې سکندرله جېلم نه واوښت نووېوېل دادهند خا وره ده...نوديوشمېرتا ريخپوهانوپه اند کله به چې افغا نانله پنډۍ اومارګلې را واوښتل نووېل به يې خپل کورټکسلاته ورسېدو...

_دکوشا نيانو(50م ز)د واک په مهال دکا بل په بګرام کې ديوه نوي ښاربنسټ کېښودل شو،خودا يې داوړې پلا زمېنه وه ،بيا يې له دېسربېره د زمي په موسم کې پېښورته تګ وراتګ کا وه اوپا روشاپورا(پېښور)يې خپل ژمنی پلاز وټا که..

دلرغون پوهانوپه اند يووخت د پېښورسيمه دپوشکا راواتا په نوم هم يا دېده ...ځنې څېړونکي دغه خبره هم کوي،چې دپېښورسيمه د کينتولوپهنوم هم يا دېده اوهغه وګړي چې له کا بل نه ترټکسلا پورې کوموسيموکې مېشت ول دګندا ريسا نو په نا مه يا دېدل. .

دپېښورنوم په يوشمېرمتونوکې د ؛پرښا ور؛ په بڼه هم ترسترګو شوی دی ،هغه وخت چې جلال الدين خوا رزم شاه نيلاب په لورد اټک سهللورته له ابا سين نه تېر شو،چنګېز بېرته پرښا ور(پېښور) ته را وګرځېد. ...

داسلام دسپېڅلي دين له خپرېدووروسته کا بل شاهان لومړی پېښورته اوبيا دټکسلا له لارې پنجاب ته واووښتل اوله دې دمخه 290زکالدکشمير پا چا ګوپاله ورمن د سوات اوپېښور سيمې له کا بل نه بېلې کړې وې...دغزنويانوپه وخت کې هم لغمان، ننګرهاراوپېښورددوئدواکمنئ برخه شوه. .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

نا متوتا ریخپوه ؛بیلو؛په دې ټینګارکوي،لرغونې اراکوزیاته دکندهارنوم دپېښورنه دګندهاریانوله ګډوالي سره یوځای ورل شویدی...نوموړي داهم غبرګه کړې ده، ما پخپلوسترګو(1872)کال دبودا دخیرات کاسه ولیده،چې دپېټلیانودتېري له کبله ګندا ریانوله ځان سره لهپېښوره کندهارته وړې وه ...اودسلطان ویس په زیارت کې پرته وه.

دبرېټانیا په دایرت المعارف کې هم دهغوافغانانوپه اړه،چې په پېښور کې استوکن وواوړدې خبرې شویدي،چې له چنګېزنه راواخله تربابرپورې دوې د پېښورپه زر ګونه افغانان وژلي دي....

دافغانستان په معاصرتاریخ کې،احمد شاه ابدالي دپښتونخوا له لارې ترهنده پورې ورسېد اویوه لویه ټولواکمنۍ یې جوړه کړه... .

دسدوزیانودواک اوځواک په مهال له تېمورشاه نیولې تررا وروسته پورې پېښوردافغاني شا هانوژمنۍ پلازمېنه وه . ...
لومړی دتیمورشاه داولادې،وروسته دسدوزېیواومحمد زېیوچاروا کواوپه پای کې دبارکزېیودخپل مېنځې اخ وډب له کبله بهرنېیودښمنانوپهسرکې برتانوي هند،چې دپنجاب سکا ن یې دېته لمسول،چې دافغانانوپه ژمنۍ پلازمېنې برید وکړي،داځکه انګرېزانوغوښتل،چې دښمن پهدښمن وواهي ،ددې خبرې ښکاره ثبوت دلاهورشرموونکی تړون وو،چې په نړۍ کې ساری نلري دمکنا ټن،رنجیتسنګ اودافغانستان شړلشوي پا چا شا ه شجاع ترمېنځ لاسلیک شو.وروسته پېښووښوده،چې پېښورپه حقیقت کې سکا نودا نګرېزانو په لمسون اوملاتړونېوه.

ولې افغا نا نوبیا هم درنجیتسنګ ځواکونوته مرګوني تلفات ورسول .سردارمحمد عظیم خا ن دجون پرمیاشت (1814)کې دهغه نا متوقومندان؛اومته سنګ؛وواژه.

په دې تړاویوې پا کستانۍ مېرمنې صفیه حلیم په یوې مقا له کې لیکلې دي،پېښورچې دسکانولاسته پرېووت بیا افغا نانوونه نېوه...له دېخبرې نه دنوموړې موخه داده،چې ګني دډیورند له کرښې مخکې لاپېښوردسکانوپه ولکه کې وو!؟ولې دغې پا کستانۍ مېرمنېدوزیرمحمداکبرخان دهغې تورې یا دونه نه ده کړې،چې دسکا نونامتوقومندان،چې رنجیت سنګه خپل ښۍ لاس ګا ڼه،هري سنګه یا دوم ،چېدوزیرمحمداکبرپه توره ووژل شو...دغې پا کستانۍ مېرمنې دالفېسټون یا دونه هم کړېده ،ولې دغه برتانوي استازي له افغان پا چا سرهدافغانستان په ژمني پلاز پېښور کې ولیدل...له دې سربېره صفېه حلیم د؛طلا؛ورونویا دونه هم کړې ده ،دا یوازې پېښورنه وه،چې دسیمهییزوواکمنو؛یا نې طلاورونو؛ له خوا اداره کېده بلکې دسردارانود نا یوالي له کبله کندهارهم دسیمه ییزوواکمنو؛دل ورونو؛اوهرات لومړیدسدوزېیووروسته دبا رکزېیوسیمه ییزوسردارانوله خوا اداره کېد ل ...دا چې پا کستا نۍ مېرمنې لیکلي دي،چې کله پېښوردسکانوپه ولکه کېپرېووت بیا ترپا یه دافغا نستا ن له واکه ووت...!؟که دصفیه حلیم موخه دا وي،چې پېښورلاد ډیورن له کرښې دمخه دافغانستان برخه نهوه،نوخېردچا برخه وه دسکانواوکه دانګرېزانو؟پنجاب،په ټوله کې دهند نیمه وچه دچا په ولکه کې وه ؟؟

که چېرې ددې خبرې ما نا دا وي،چې پېښوردافغا نستان دجغرافېې برخه نه وه،دسکانواویا دبرتانوي هند برخه وه نوبیا ولېانګرېزانودډیورنډ موافقه لیک دافغانستان پا چا امیرعبدالرحمان با ندې په زورلاسلیکا وه؟!

څومره چې دډیورنډ دکرښې مسا له ده،دنړېوالوحقوقي اوتا ریخي ارزښتونوله مخې هېڅ ډول نړېوالو حقوقي ارزښت نه لري،نوځکه خوپاکستان له هرې روا اونا روا لارې نه کا ر اخلي،چې دافغانستان حکومت دډیورنډ کرښه په رسمېیت وپېژني...

دډیورنډ دکرښې په تړا ووروستۍ خبره،چې چا کړې ده هغه د اروپا یي پا رلمان مرستیال ریچارډ چا رنسکي خبره ده،چې څو وخته دمخهېې وویل،پرډېیورنډ کرښه بیا کتنه اړینه ده،په کا ر دی دافغانستان حق ورکړشي...

نواغلې صفېیه حلیم ته باید وویل شي،چې دا خبرې ګټه نه لري،چې پېښورکله دافغا نا نوله ولکې وتلی دی ؟ دا چې دا خبره تا سوپه کوم نیتکړېده موږ پوهېږو،خوداچې یوشمېرافغا نا ن ولې بیا بیا ستا لیکنه راغبرګوي دپا م وړده!؟دا ځکه ما یوه اونۍ دمخه،چې یوچا له خپلې پا ڼېخپره کړې وه اوما په فېسبوک کې ولوسته نوغوره مې وګڼله،چې افغا نان په دې پوه شي،چې له دغې لیکنې،هغه دیوچا خبره،چې ترې لاندېې په ډېرې اوښیا رئ لیکلي ول،چې له دغې لیکنې نه یوبوې راځي !!په حقه یې وېلې دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

فکرکوم،هغه داما ن ا له خان مو همه خبره ښا يي ډېروته څرګنده وي،چې کله له کوېټې نه هندوستان ته روانېده،نولارډ پوليټيکل اېجنټ ورتهوويل،ماته لاسليک راکړه،چې زه له افغانستانه کوېټې ښاربرټش بلوچستان ته ورسېدم اوغواړم برتا نوي هند ته لاړشم...اما ن اله خان ورتهپه ځغرده وويل،زه لااوس هم دافغانستان په خاوره کې يم...دډېيورند له کرښې وروسته،اميرعبدالرحمان خان دا خبره کړې،چې اټکدافغانستان طبعي سرحد دی. په دې اړه زما په شمول لسګونوافغا نانولسګونه مقا لې ليکلي دي،نړۍ والوته يې دا ګيزه کړې،چې په حقوقياوتا ريخي لحاظ دډېيورنډ کرښه له اولې ورځې ترنړيوال کنوانسيون(1969)پورې اوبيا ترراوروسته هېڅ ډول نړيوال حقوقي ارزښت نهلري.

وروستی کتا ب،چې په هغه کې دډېيورنډ دکرښې اود اميرعبدالرحمان خان په اړه ليکل شوي دي،هغه د؛ډيويډلاين؛ کتا ب دی،ده په دې اړهداسې ليکلي دي،انګريزانوپه اميرعبد الرحمان خان ټولې لارې تړلې وې ،هغه ته کومه پښه پاتې نه وه،چې پرې ودرېږي نوموړی اړ وو،چې په سر ودرېږي ...؛

داوس له پاره همدومره،
په ډېردرنښت


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ